غم ژن نسلونه

اردو ناول

ليکوال عبد الله حسين

ژباړه او خلاصه صفيه حليم

په روشن پورکلي کې د سلو نه زيات کورونه هم نه و. دا کلي د لوې لارې نه دومره لیرې و چې څوک به پرې نه ورتلل. یوې لوې ویالې د روشن پور زمکې خړوبولې. دلته زيات اوسيدونکي هندوان او سيکان وخو دا کلی مسلمانانو اباد کړې و.

د روشن پور تاريخ ډېر پخوانې نه و او هغه څوکسان چې په لومړي ځل دې کلي کې مېشت شول، يو څو يکې اوس هم ژوندي و. د روشن پور بن سټ ايښونکې روشن علي نومېدو. يو سپين ږيرې کروند گر احمد دين به تولو ته پخوانی کیسې کولې. د ده وينا وه چې د ۱۸۵۷ م کې کله چې په هند کې د انگريزانو پر ضد پاڅون ووشو نوروشن علي په ډېلي کې يومعمولي ملازم و. تر اتم صنف يې سبق ويلې و او د زاړه ښار په يوه کوڅه کې د خپلې موراو مېرمنې سره يې ژوند کوو.

په هغو ورځو کې د تاو تپ له کبله د ښار خلک به د شپې له کوره نه راوتل. یو ماښام روشن علي د یو ناروغ ملګري له عیادت وروسته بېرته خپل کور ته روان و چې په کوڅه کې یې پر ځمکه پروت یو څوک ولیدو چې د ده نه لږ وړاندې پر زمکه پريوتو. روشن علي ورنږدې شو خو په تياره کې يې د هغه کس نشو پېژندلې، چې بې هوشه و. ده هغه سړې په خپلو اوږو اوچت کړو او کور ته يې يوړو. هلته د ډيوې په رڼا کې يې وليدل چې هغه کس يو انگرېز پوځي او ټپي شوې و.

روشن علي هېښ و خو دارو درمل يې ورته وکړل. په بله ورځ خلکو په کوڅه کې د وينې يوه ليکه وليده چې د روشن علي د کور تمبې پورې تللې وه. د هند باغي عسکر خبر شول نو د روشن علي نه يې غوښتنه وکړه چې هغه پېرنگې ډگر مند جانسن چې دوي سره د جنگ پر وخت له چاونی

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

تښتېدلي و، ورته وسپاري. باغي عسکرو ګواښ وکړو چې که داسې یې ونکړل نوټول محلت به د توپ په ډزو وران کړي. د محلت خلکو روشن علي ته بد رد ویل او نورو ورته زولۍ غوړوله چې دښمن دې باغیانو ته وسپاري . خو روشن علي ویل چې که څوک یې وژني هم نو دې به ټېپي مېلمه له کوره نه اوباسي.
تردې وروسته د روشن علي په کیسه کې ګډوډي وه. څوک واي چې باغیانو دروازه ماته کړه نو روشن علي هغه انګرېز په یوه اوږه او خپله میرمنه یې په بله کښېنول او توره په لاس د ټولو سره په جنګ له هغه ځایه ووتلو. بل واي چې کور محاصره شو نو روشن علي په فرش ټونل وکیندلو چې چاونۍ ته وتلې و. ده خپله میرمنه او پېرنګې وویستل او کله چې خلکو دروازه ماته کړه نو په کور کې د روشن علي سپین سرې مور مړه پرته وه. یوه بله کیسه دا وه چې هغه محاصره ډېره وغځېده او بیا یوه ورځ پیرنګیان بریالي شول نو جانسن یې راوویستو.
هر څه چې شوي و، په پاڅون کې انګریزان بریالي شول نو روشن علي د ډېلي دربار ته وروبلل شو. ده ته یې د نواب خطاب او زمکه په انعام کې ورکړل. د زمکې په اړه هم دوه کیسې دي. یوه دا چې روشن علي د خپل اس د لکۍ سره د شاتو ډک ټین ( ټیم) چې پکې سورې جوړ و، وتړلو او د زمکې د یو سر نه بل ته یې اس وځغلوو. په توې شویو شاتو مېږي راټول شول او په دې توګه یې د خپلو زمکو برید وټاکلو.
بله کیسه داسې وه چې ده پر زمکه منډه وهله او په لاس کې یې د لرګي ډنډې نیولې وې چې هغه به یې ځای ځای ټک وهلې. د لمر ډوبېدو پر وخت چې څومره زمکه په دې لرګیو یې راګیره کړې وه هغه د ده شوه.
یو روایت دا هم دې چې روشن علي دومره منډې وهلې وې چې په اخره کې ساه یې ورانه شوه او نږدې مړ شوې وې.
د روشن پور دا پینځه سوه جریبه زمکه ټوله د روشن علي وه او تر څو چې ډګرمن جانسن په هند کې و، د ده د مېلمه په توګه به هرکال روشن پورته ښکار لپاره راتلو. روشن علي ته به اوس خلکو روشن اغا ویل او په ډېلي کې یې هم یوه مانۍ د "روشن محل" په نوم جوړه کړې وه.
یو وخت دې د سیل لپاره اروپا ته ولاړو او د ده زوې هم په اروپا کې سبق وویلو. وروسته د ده زوې محي الدین پخپله خوښه د یوې داسې جینۍ سره واده وکړو چې د هنرمندانو له کورنۍ نه وه او په ټولنه کې به په ښه سترګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورته نه کتل کیده. روشن اغا ترې مرور شو او ډیره موده پلار او زوي د یو بل سره وران و. هم دا وه چې زوې یې په روشن محل کې ژوند پیل کړو او کلي ته به نه تلو.
د کلي په منځ کې د روشن اغا پخه ماڼۍ وه چې ټول عمر پکې میشت و. خو په وروستي عمر کې ده خپل زوې وبخښلو او په ډیلي کې روشن محل ته ولاړو. دکلي پر څنډو یو بل پوخ کور کې د مغلو یو ټبر اوسېدو. د دوي کیسه داسې وه چې مرزا محمد بیگ د روشن علي په دفتر کې د ده ملگرې و. کله چې روشن علي نواب او د زمکې خاوند شو نو پنځوس جریبه زمکه یې خپل ملگري ته ډالۍ کړه او پخپل لگښت یې ورته دا کور هم جوړکړو.
ځیني خلک واي چې په اصل کې د مرزا بیگ ښځه ډیره ښکلې وه او روشن علي پرې میئن و او ځینو نورو خو لا دا هم ویل چې د ده مشرزوې نیاز بیگ په اصل کې د روشن علي زوې و. خو په کلیو کې داسې گنگوسې ډېرې وي نو له دې به تېر شو.
تر څو چې روشن علي او مرزا محمد بیگ ژوندي و، د دواړو کورنیو تر منځ تگ راتگ کېدو. مرزا بیگ مړ شواو د ده مشر زوې نیازبیگ د اولاد لپاره دوېم واده وکړو. د خداې کارونه داسې و چې مشرې میرمنې ته یې پینځلس کاله وروسته زوې ورکړو، نو مور یې له خوشالۍ مړه شوه.
څه موده وروسته انگریز پوځ د نیاز بیگ په کور چپاو وکړو، دې یې ونیولو او د وسلې جوړولوپه جرم کې د دولسو کالو په بند محکوم کړو.
د مرزا دویم زوې ایازبیگ د سبق نه وروسته د کلکتې په یو شرکت کې د انجنیر په توگه کار کوو او واده یې نه وکړې. ده خپل ماشوم وراره نعیم ځان سره بوتلو او د کلکتې په یو لوړ ښوونځي کې یې داخل کړو چې د انگرېزانو زامنو به پکې زدکړه کوله. ده د ورور میرمنو ته هم نفقه ورلیږله چې په کلي کې پاتې شوې.
په دې هر څه شپاړس کاله تېر شول او یوه ورځ نواب روشن علي خان د اتیاو کالو په عمر کې مړ شو. دا هغه وخت و چې د هندوستان په خلکو کې د سیاسي شعور ډیوه روښانه شوې وه. د ډیلي په روشن محل کې گڼه گوڼه وه او د یوې لوې میلمستیا لپاره تابیا کیده.
ایازبیگ د خپل وراره نعیم سره روشن محل کې وردننه شو او دواړه مخامخ برنډې ته ورغلل چې څو ځوانانو پکې د یو لوې میز چاپیره د

(c) ketabton.com: The Digital Library

میلمنو لپاره روماللونه کټ کول. یوې ځواني جینۍ ایاز بیګ ته وویل، " کاکا ستړي مه شې، بابا دننه ناست دی" نعیم د تره سره دننه ورغلو نو په دې لویه کوټه کې د کور په مشر یې سترګې ولګیدې.
د روشن اغا زوې محي الدین د یو میز مخ ته په لوې چوکۍ ناست په لیکلو بوخت و. دوي ته یې هر کلي وویل او نعیم ولیدل چې د ده تره ډېر په عاجزۍ ورسره خبرې کولې. هغه ته دواړه لاسونه په نامه تړلي لګیا و، " د روشن آغا جنازې ته رانغلم، ډېر افسوس مې وکړو خو د نوکرۍ خبره وه" نواب ورله ډاډ ورکړو او بیا یې نعیم ته وکتل، ایاز بیګ وویل،" دا مې وراره دی، نعیم .." نواب او ایاز بیګ دواړه ناارامه ښکاریدل، ده ته یې وویل " د ده ځېره نیاز بیګ ته ورته ده، ښکلي سړې و، د بند نه خوشې شو که نه؟
ایاز بیګ ورته وویل چې ورور یې د دولسو کالو د بند نه وروسته خوشې شوې او په کلي کې اوسېږي خو ده تر اوسه نه و لیدلې. نعیم په کلکتې کې د ښوونځي سبق خلاص کړې و او د خپل تره او د نواب په خبرو یې احساس وکړو چې د ده د پلار په زکر دواړه ناارامه و. نواب موضوع واړوله او په خپلو مېلمنو کې د ځینو مهمو سیاست دانانو نومونه یې واخستل چې نن د ده کور ته راتلل. لږ په غرور یې وویل چې انګرېز کمشنر هم راتلونکې و.
نعیم د خپل تره سره لوې باغ ته ولاړو او خلکو ته ځیر شو. د نواب زوې پروېز ورته ستړي مشي وویل، هغه جینۍ چې لومړې یې ورته ستړي مه شي ویلي و، د نواب لورعذرا وه. هغې اوس سپینه ساړې تړلې وه او نوروځوانانوسره په خبرو بوخته وه چې د دوي ملګري معلومیدل. یو وارې عذرا د نعیم خوا ته راغله نو په شوخه لهجه یې وویل، " تاسو دا خولۍ چرې هم له سره نه لیرې کوئ؟ نعیم وارخطا خولۍ د سر نه لیرې کړه. هغې ورته د شېرواني ( د بندې غاړې کوټ) د مخ توکمو د پرانستو هم وویل. کله چې ده یې خبره ومنله نو دا وشرمېده، ! "زما مطلب و چې ګرمي ډېره ده "
نواب هغه وخت د یو پاخه عمر مېرمنې سره په دروازې د میلمنو هر کلي ته ولاړ و. تر اوسه چې کوم خلک په موټرو کې راغلي و زیات یې اروپایان و چې مېرمنو یې د ماښام تنګ فیشني لباسونه اغوستي و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هندوستان مېلمانه د دوو يا د څلورو اسونو په ګاډيو کې راتلل . مسلمانانو اوږدې چپنې يا شيرواني په غاړه او اناري رنګ ترکي خولۍ به يې په سر وې . هم دغسې خولۍ اوس نعيم هم په سرکړې وه. هندوان پخپلو سپينو لنګوټو او پټکو کې پيژندل کيده. اروپاې سړو به د راتلو سره خپله خولۍ او په لاس کې نيولې امسا خادم ته وسپارل. نور به د خپلو خوليو، پټکو او امسا سره په چوکۍ کښېناستل.
انګريزان خپل ځان له يوې خوا ته او د هند وګړي مسلمانان او هندوان بلې خوا ته ناست و. يواځينې هندوستاني يو مهاراجه و چې د انګريزانو په ډله کې کښېناستو. هر چا د خپلې خوښې شربت يا د شراب فرمايش ورکوو او خادم به ورته ډېر په ادب يو طشت کې راوړل. نعيم د ځينو ميلمنو نومونه اورېدلي و او نن يې په ليدو غوښتل چې ورسره خبرې وکړي خو ځان يې پردې احساسوو.
دې د ميلمنو د چوکيو شا ته ورو ورو تېر شو او د دوي خبرې به يې واوريدې. بيا ولاړو اود خپل تره څنګ ته کښېناستو. هلته په انګريزي ژبه خبرې کېدې او نعيم هم پکې برخه واخسته خو د ده خبرې د اروپايانو خوښې نشوې او تره ورته په قهر وکتل. هغه وخت په باغ کې د ډوډۍ اعلان ووشو او ټول د مېزونو خوا ته ولاړل.
نواب محي الدين خپلې جامې بدلې کړې وې او په سور وريښمين لباس کې راښکاره شو چې د ملا سره يې يوه توره هم ځوړنده وه. دې د لوې مېز سر ته راغلو چې نږدې ورته څو انګريزان ناست و. د ده مخ ته يوه زرينه خولۍ ايښې وه. د مېز د بل سر نه يو سپين ږيرې راپاسيدو او وې ويل. " نن د مې د مياشتې ديارلسمه نېټه ، کال ۱۹۱۳ د نواب روشن اغا د مړينې درې مياشتې پوره شوي دي. د دې کورنۍ د رواياتو په وياړ مونږ اعلان کوو چې غلام محي الدين د نواب د لقب حقدار دې او نن د خپل مرحوم پلار رتبه تر لاسه کوي. د نورو خبرو نه وروسته هغه د مېز نه زرينه خولۍ را واخسته او د نواب پر سر يې کېښوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ډېلي کې د اتوار په ورځ د روشن اغا د زوی پرویز د بي-اې په کامیابۍ یوه مېلمستیا جوړه شوه چې نعیم او د ده تره هم وربلل شوي و. دوي چې ورغلل نو ځوانان بهر په چمن کې راټول و. یوې انګریزې جینۍ د نعیم په لیدو عذرا ته وویل، " هغه دې ستا ښکلې مېلمه هم راغلو" عذرا ورته برنده شوه خو په زړه کې خوشاله وه. نعیم په انګریزي لباس کې ښه ښکارېدو او عذرا سره یې په خبرو کې وویل چې دې به روشن پورکې ژوند کوي.
د ده عذرا خوښېده او له هغې وروسته هر ماښام به یې د لیدو لپاره روشن محل ته ورتلو.
یوه سهارد چایو څښلو پر وخت خپل تره ترېنه پوښتنه وکړه چې دې هره ورځ روشن محل ته ولې ځي؟ نعیم ورته سم ځواب ورنکړې شو. کاکا ورته یې وویل چې د عذرا موراو خاله د شریفې کورنۍ نه نه وې اونه د هغوي د پلار نوم چا ته معلوم و. نعیم ته یې د ده د خپل پلار کیسه وکړه چې هغه ولې شپاړس کاله بندي و. د ده پلار په کورکې د اوسپنې زینتي شیان جوړول خو یو ځل یې ټوپک جوړ کړو نو د انګریز پوځ پورا یو پلټن (ډلګۍ) کلي ته راغلو او د دوي د کور هر څه یې وسېزل. بیا دې یې په بند کې واچوو او ټوله کورنۍ یې در په دره کړه. نعیم ته یې نصیحت وکړو چې ده اوس سبق ویلې دې نو باید ځان یو لوړ ځای ته ورسوي.
په هغه ماښام نعیم د عذرا لیدو ته ولاړو نو ورته یې وویل چې دې به په بحري ځواک کې ملازمت وکړي. خو عذرا ورته وویل چې د ده پلاربند تېر کړې و نو ځکه د انګریز سرکاري ملازمت نشي کولې. نعیم داسې احساس وکړو چې عذرا د ځان په اړه لوړ فکر لرلو. دې په خفګان له هغه ځایه ووتلو او خپل کلي ته د تلو لپاره یې د اور ګاډي ټکټ واخستو.
په بل ماځیګر دې روشن پور ته نږدې د اورګاډي په تم ځای کې ښکته شو نو یو کروندګر چې د نعیم پلار استولې و د ده هر کلې وکړو. دولس میله مزل نه وروسته دوي کلي ته ورسیدل او نعیم خپل پلار ولیدو. هغه نعیم په غېږ کې ونیولو او ښکل یې کړو. په کور کې دوه ښځې وې چې سپین سرې د ده مور او په لیدو یې په ژړا شوه. ځوانه ښځه ده ته ځیر او خپل ځان سره یې څه ویل چې نعیم پرې نه پوهېدو.
یو وړوکي هلک نعیم ته سلام وکړو نوموریې وویل، " دا ستا د ماما زوې دې، د ده مور او پلار دواړه د لوې هیضې ( کولرا) په وبا کې مړه شوي دي " د نعیم د مېرې مور په غېږ کې هم یو ماشوم و چې علي نومېدو. د

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاو خوا کورونو نه سړي او ښځې لالټېن په لاس کوڅې ته راووتل او نیاز بیگ ته یې وویل، " کا کا امبارک شه زوی دې راغلو"
مشرې میرمنې په یو لوی تال کې سپینې اېشیدلې وریژې راوویستلې، سره شکره یې پرې وشیندله او تود کوچ یې ورباندې واړول چې په وریژو کې جذب شو. بیا ډېر په احتیاط یې هغه تال د کوټې په منځ کې کېښودو. د کور درې واړه سړې د دې تال چاپېره کښېناستل او د خپل مخې نه یې په خوړلو پېل وکړو.
له ډوډۍ وروسته نعیم ویده شو او بل سهار د ښځو په شور راویښ شو. دواړه میاندې یې په جنگ وې خو د ده په لیدو هم خاموشه نشوې . پلار ورته وویل، " دا دواړه جاهلانې دي، ته بهر ولاړ شه " نعیم بهر کوڅې ته ووتلو نو یو سیک هلک یې ولیدو چې ډانگ په لاس په ویاله کې ناستو مېښنوته ولاړ و. د ده په لیدو یې وویل، " ستا میاندې هره ورځ جنگ کوي" نعیم په تاو وویل، " ولې؟" ځوان وخاندل، " بس یوه بانه جوړه کړي، د جنگ... د مزې خبره دا ده چې کله ستا پلار بندي و نو دوي دواړه لکه د سکه خویندو اوسیدې. شپاړس کاله یې ډیر په آب او عزت ژوند وکړو خو اوس نه پوهېږو چې ولې ناندرۍ وهي"
نعیم د هغه هلک سره چې مهندرسنگ نومېدو پټیو ته روان شو. مهندر په ټوله لاره خبرې کولې او ورته د کلي د نورو خلکو په اړه معلومات ورکول. د غنمو فصل تیار و او کروند گر په لاوونو ( لو) لاس پورې کړې و. خپلو مېرمنو او لونو ورته ژیرغوړي، شوملې او د تناره ډوډۍ پټیو ته راوړل. دنیاز بیگ د برخې زمکه د ده د جرم له کبله ترې حکومت ضبط کړې وه. اوس ده له چا زمکه په اجاره اخستې او خاوره یې اړوله. نعیم ولیدل چې پلار یې غېرتي سړې و او د زمکې په کرونده پورا خبر و. ایاز بیگ نعیم پسې ځوابونه رالیږل چې ډېلي ته دې ورشي چې په سم کار لاس پورې کړي. خو نعیم په کلي کې پاتې شو. ده د پلار نه د یوې، کولبې، د تخم د کرلو او د اوبه خوړ چل زده کړې و. د روشن اغا کور ته به د ده منشي د مالیې د راټولولو لپاره راتلو او د هغه له خلې خبر شو چې پرویز د لوړو زدکړو لپاره انگلستان ته تللې و.
د ژمې په یو ماښام د مهندر سنگه مشر ورور پخپلو متو یوه کچه کوټه رانړولې او د پټکي تړلو ویاړ یې تر لاسه کړې و. نعیم هم دې میلمستیا ته بلل شوې و. له هغې وروسته نعیم او مهندر سنگ به یو بل سره ډیرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبرې کولې. په څو مياشتو کې غنم پاخه شول نو د روشن پور هر وګړي کار ته اوړه ورکړه. په سخت لمر کې د کروند ګرو څرمنه توره آوختې وه. د ښځو په مخ او لاسونو سپين داغونه جوړ شوي و او د څاروو هډونه ښکاريدل.
يو ډم به ټوله ورځ په پټيو کې ډول غږوو او د هغې غږ سره د کروند ګرو لاسونو به لکه د ماشين حرکت کوو. په دريمه ورځ ډير پټي پاک شوي و او پرېکړي غنم په لمر کې د وچيدو لپاره ډيرۍ ډيرۍ کيښودل شو.
سږ کال غنم ډېر شوي و او د خلکو ورته هيله وه چې ډکې خومبې به يې له بې وزلۍ وژغوري.
خو په بله ورځ د پوځي لاريو په ليدو ټول هېښ شول. پوځيان په ټول کلي کې خپاره شول او ځوانان يې هغه ميدان کې راټول کړل چې يو انګرېز افسر پکې ولاړ و. ده په اردو ژبه ټولو ته وېنا وکړه چې "هر کس د خپل ملک د ساتنې لپاره بايد قرباني ورکړي ځکه د جنګ له کبله د دوي امن په خطر کې و. زمونږ ځوانان پکار دي چې جنګ وکړې شي. هر ځوان ته به د مياشتې اوو نقريي روپۍ معاش ورکوو، د دوي ډوډۍ به هم د سرکار په غاړه وي او د جنګ په پاې کې به دوي بېرته خپلو کورونو ته راشي. مونږ سپين ږيري نه بيايو، ځوانان دې خپل نومونه ووښاي"
خلک د مچانو په څېربنګيدل خو هيچا خپل نوم نه ورکوو. يو چا پوښتنه وکړه. " جنګ چرته کيږي؟" هغه انګريز په زوره وويل، " انګلستان ته ګواښ شوې دې، ستاسو حکومت ته ګواښ شوې دې او د دې دننګونې لپاره مو ستاسو په شان ځوانان پکار دي" يو غږ راپورته شو، " مونږ لوونه کوو، ټول غنم لا په مېدان کې پروت دې" هغه انګريز په قهر وويل، " نومونه راکړئ چې مونږ نورو کليو ته هم ځو" بيا يې هندي عسکرو ته امر وکړو چې د ځوانانو نومونه دې وليکي.
خلکو ښکنځلې او بدې ردې ويلې او څو ځوانان د غوايو او مېښو سره ونښتل چې پوځيانو د ټوپک په زورترې رابېل کړل. نعيم وړاندې شو او په انګرېزي ژبه يې بريدګي ته وويل، " زما نوم وليکه" هغه حېرانه شو، " تا سبق ويلې دې؟" نعيم ورته د خپل سبق خبره وکړه نو ده وويل، " ته زمونږ نه يې پکار" نعيم ورته کلک شو. " زه اس ځغلولې شم، ټوپک چلولې شم او له دوي ټولو ښه جنګ کولې شم"

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه شپه نعيم د خپل کلي د دوو نورو ځوانانو سره په پوځي لارۍ کې تيره کړه چې د ده په شان پخپله يې نومونه ورکړي و. په بل سهار وختي نواب روشن آغا له ښاره د انګرز افسر په بدرګه راغلو او د کلي خلک يې را وهڅول چې ځوانان دې جنګ لپاره پوځ ته وسپاري. په دريو ساعتو کې د څلوېښتو ځوانانو نومونه وليکل شول نو دې بېرته ولاړو. د کلي په ډېرو کورونوکې ښځو ژړل او سپين ږيرو خپلو پټيو ته په اندېښنه کتل.
په دوو مياشتو کې نعيم په فيروز پور چاونۍ کې د پوځي ژوند د سختو سره عادت شو. اتلس ساعته منډې، د ټوپک خلاصول، بندول، ډزې کول او بيا شپږ ساعته خوب د ده دماغ سست کړو. د اګست په څلورمه نيټه ۱۹۱۴ م کې د جنګ اعلان ووشو او پينځه ورځې وروسته د ده کنډک ته د کوچ امر وشو.
نيمه شپه دوي د اورګاډي په هغو ډبو کې کښېناستل چې د څاروو او مال وړلو لپاره جوړې وې. ټول د خپلې وسلې او په ملا تړلي بار سره د دې ډبې د ديوالونو سره چاپيره په پروړ کښېناستل. سهار څلور بجې کراچي ته د رسېدو سره په بندر ولاړ يوې بيړۍ ته وختل. د دوي لومړې پړاو عدن و چې پکې يوه ورځ او شپه ايسار و. هلته د هندوستان له بندرونو نورې بيړۍ راتلې او اخر پينځه څلويښت بيړۍ چې يو ځاې شوې نو د يوې قافلې په شان رواني شوې.
په بحيره قلزم کې د ژغورنې درې بيړۍ هم ورسره ملې شوې. نعيم د نورو هندي پوځيانو په څېر د سمندر په ناروغۍ اخته و او ټوله ورځ به يې د ليمو اوبه څښلې. څو ورځې وروسته سمندر ارامه شو نو نعيم په لومړي ځل د سمندر له سفر خوند واخستو. د مصر په " سعيد بندر" کې دوي له بيړۍ ښکته شول او پوځي لاريو کې قاهرې ته ولاړل. د هغه ځاې بازار نعيم ته د ډېلي په شان ښکاره شو خو د خلکو لباس پکې توپير لرلو.
له ښاره بهر د اس ځغاستې په ميدان کې د دوي کيمپ و چې يوې خوا ته يې څو وچې غونډۍ او بلې ته شګلنه دشته وه. ترغرمې به يې په دې دشته کې مارچ او تمرين وکړو او بيا به د خيمو سيورې ته پرېوتل. په څلورمه ورځ نعيم ته امر وشو چې د ډګرمن خيمې ته دې ورشي. دا خيمه د زرغون رنګ وه او ډګرمن پکې د اوسپنې په يوې چوکۍ د وړوکي مېز شا ته ناست و. له نعيم يې په انګريزي ژبې څو پوښتنې وکړې او بيا يې وويل، " تا د ماشين ګن چلولو زدکړه کړې ده؟ نعيم ورته منفي ځواب

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکړو نو وې ویل " تا سبق ویلې دې نوله دې امله رتبه به دې لوړه کړو او د ماشین گن د سرپرک مشر په توگه به تربیه واخلې" نعیم په پنجو لږ لوړشو او سلامي يې ورکړه.
د قاهرې نه دوي اسکندریه ته په گاډي کې ولاړل او هلته هم د تمرين او د روزنې لړۍ روانه وه. له دې ځایه دوي په شلو بېړیو کې د روم په سمندرگي کې روان شول. د فرانسي د مارسیلز بندر چې ښکاره شو نو انگرېز عسکر د خوشالۍ نه په گډا شول. په بندر کې د فرانسي خلک چې ښځې هم پکې وې، د دوي هر کلي ته راغلي و. په لاره ولاړو کسانو به د هندي پوځیانو په لیدو ورته خولۍ لیرې کړې او چکچک به يې وکړل.
د مصر د دشتو اوگرمۍ نه وروسته د مارسیلز شنه میدانونه او ښکلې هوا د نعیم روح تازه کړو. په يو میدان کې د دوي کیمپ و او دې د خپل روزونکي، ټاکرداس سره په یوه خیمه کې و.
ټوله ورځ به يې د ماشین گن د بېلا بېلو برخو نومونه او د دې د گولیو په اړه زدکړه کوله. یوه ورځ يې ترې د جنگ په اړه پوښتنه وکړه چې محاز کوم ځای و. ټاکر داس ورته وویل، "ډېر ژر به خبر شې" څو ورځې وروسته د دوي پوځي لارۍ په بلجیم کې داخلې شوې او د محاز نه درې میله شا ته یو ښار گوټي کې ایسار شول چې کورونه او دکانونه يې خوشې پراته و.
د بلجیم په یومحاز نعیم د خپل ماشین گن سره ناست و. په سنگرکې د ده ښوونکې ټاکر داس هم و چې د خپل ژوند کیسې يې ورته کولې. د جرمني ( الماني) پوځ د توپو ډزې له نږدې کېدې او الوتکو هم بمبارۍ پیل کړې وې. نعیم خپل څو ملگري د مرگ کندې ته په غورځیدو ولیدل. بیا د واورې ورېدو له کبله څو ورځې جنگ تم شو. په وروستي ځل نعیم د شملې په غرونو کې واوره لیدلې وه او ده ته رایاد شول چې هغه وخت به يې ټولو ته ویل چې دې به ډاکټر کېږي.
واوره بنده شوه نو جنگ پیل شو او یوه ورځ نعیم ټوله ورځ په ماشین گن ډزې کولې. شپه یخه وه او د سپوږمۍ په رڼا کې ده جرمني پوځیان ولیدل چې د ونو نه اخوا د دوي لور ته راوړاندې کیدل. ټاکر داس سره گولۍ په خلاصیدو وې او نعیم د ده په امر خپل ټوپک واخستو او له سنگر رابهر شو. دې په منډه وسله تون ته ولاړو او د گولیو درې پیټۍ په اوږه ایښې خپل سنگر نه لا درې گامه لیرې وچې د بم د غږ سره پر زمکه پریوتو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټاکر داس په زوره وويل، " ټپي شوې خو نه يې؟" نعيم هيڅ ځواب ورنکړو نو ټاکر داس د ده مرستې لپاره له سنګر نه راووتلو او هم هغه وخت د جرمني پوځ په ډزو پريوتو. نعيم لکه د مار پر زمکه تاو شو او د ډزو نه يې ځان وويستو.

دې تر يو کال په بلجيم او فرانسه کې پاتې و او په شلګونو سنګرونو کې وجنګيدو. بيا ختيځې افريقه ته يې ورواستوو. هلته آب وهوا ګرمه او نم ژنه وه. دوي به له مياشو ډک وابنو کې نيم په اوبو کې ولاړ و او هم دا يې مورچې وې. هره شپه د دوي يودوه کسان يا به مار وچيچل او يا ملاريا په ناروغۍ مړه شول. پوځيانو ته بدبودار تيل ورکړې شوي و چې د مياشو د مخ نيوي لپاره به يې په ځان موښل. يوه ورځ دوي دالماني پوځ تر بريد لاندې راغلل.

نعيم د ماشين ګن په ګوليو ډېر کسان وويشتل او يو وخت يې وليدل چې د ده د کنډک انګريز افسر د يوې ونې لاندې طفنچه په لاس ولاړ و. د ده پام نه و چې د پوخ عمر يو الماني عسکر د هغه د وژلو لپاره د نعيم مخې نه تير شو. نعيم په چټک خپله لويه چړه د الماني په خيټه کې ومنډله او چې د ده مخ ته يې وکتل نو په سترګو کې يې اوښکې وې. هم هغه شيبه د نعيم په سترګو تياره شوه اوټوپک ترې پريوتو. څو شيبې وروسته چې د پريوتي ټوپک د اوچتولو لپاره يې لاس وغځوو نو وې ليدل چې لاس يې د دوو رګونو سره ځوړند و.

ده چې بيا سترګې وغړولې نو د سره صليب په روغتون کې و او لاس يې پرې شوې و. د پوځ يو افسر ده ته خبر ورکړو چې په جنګ کې ده ميړانه ښودلې وه او د ده لپاره د " ملټري کراس" بادرۍ نشان سفارش شوې دې. نعيم ته يې وويل چې د خپلې نوکرۍ پاتې موده به د المان د ټپي شويو بنديانو د ساتندوې په توګه پورا کړي.

د بنديانو روغتون په يوه کليسا کې جوړ و. نعيم په لومړي ورځ ټوپک په اوږه چاپيره وګرځيدو. د دې په دالانونو کې هم کټونه ايښي و. په يو کټ يې هغه الماني پوځي وليدو چې د ده د لاسه ټپي شوې و. نعيم پخپل ځاې ودريدو او نه پوهيدو چې دې به يې وپيژني او که نه؟ بيا ورو ورو د ده له مخې تېر شو. الماني سترګې وغړولې اونعيم ته يې وکتل خو داسې نه ايسېده چې دې يې پيژندلې و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بندي خبرې نه کولې او هرسهار به د نعیم په لیدو ورته موسکې شو. نعیم د ده په لیدو غوښتل چې ورسره خبرې وکړي او د ده د غږ اوریدو ته په تلوسه شو. هره ورځ د ده د کټ سره ایسار شواو پوښتنه به یې ترې وکړه، " څنګه یې ؟" په ځواب کې د ده په مخ موسکا خپره شوه او سترګې به یې پټې کړې.
بیا یوه ورځ یې په ماته ګوډه انګریزي ژبه کې وویل، " زه مرستې ته اړتیا لرم، دلته هره ورځ د لمروړانګې راته تکلیف راکوي، که ما ته په دننه کوټه کې ځاې راکړې شو نو ..." نعیم د ډاکټر سره خبره وکړه نو ده وونه منل خو د نعیم په ټینګار اخر یې اجازه ورکړه چې یو ټغر د ده کټ هغه ډډې ته وځړول شي چې د وړانګو مخه ونیسي.
د وخت په تېریدو د نعیم په زړه پروت پیټې لا دروند شو. کله کله به د الماني د کټ سره ودریدو چې ورته وواي، " ما ستا په خېټه کې چړه منډلې وه" خو بیا به هم هغسې ترې تېر شو. یوه ورځ هغه ټپي ورته وویل، " تا راسره مرسته کړې ده، زه غواړم چې ستا لپاره څه وکړم. که د چیړ لرګې او یو څو اوزار دې راوړل نو زه به درته بدل لاس جوړکړم، ما د خپل پلار نه دا کار زده کړې و" نعیم ورته وویل چې دې اړتیا نه لري خو الماني ټینګار وکړو چې دې ټوله ورځ بېکاره ناست وي او ځان ته مشغولا غواړي.
نعیم د ډاکټرپه اجازه د لرګي یوه ټوټه او اوزار راوړل نو دې پرې بوخت شو. څو ورځې وروسته الماني بندي د لرګي نه یو ښکلې لاس جوړکړواو په بله ورځ نعیم ته د نوکري د ختمیدو امر راغلو.
په کلي کې نعیم اوس درانه کارونه نشول کولې. ماښام به دې چوپال ( هوجره) ته ولاړو نو ټول به په درناوي ورته ودرېدل. دې د کلي یواځینې ځوان و چې د جنګ نه ژوندې راغلې و او د امتیاز نښه ( ملټري کراس ) یې په سینه ځړوله. د دې بادرۍ سره نعیم ته څو جریبه زمکه هم ورکړې شوې وه. ده به اوس په مړه ګېډه ډوډۍ خوړه او ښه خوب به یې کوو. د لرګي هغه لاس چې الماني ورته جوړکړې و، په لستوڼي کې یې بند کړو اود کلي د کبډۍ او د ګاډیو د ځغاستې په سیالیو کې په اس سپور ورتلو. د ده د ماما زوې او ماشوم وروړعلي به د پلار سره پر زمکو کار کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

روشن اغا نواب موټر اخستې و او د کلي د هرکور په سرد موټر ماليه ټاکل شوې وه. يو ماښام نعيم پخپل اس سپور د روشن اغا د کور مخې نه تېرېدو او له ديوال يې وليدل چې د کلي بې وزله کروند گرو د منشي مخ ته پر زمکه ناست زارۍ کولې چې له دوي دې د موټر ماليه نه اخلي ځکه اولادونه به يې وږي پاتې شي. منشي ورته په سخته وويل چې که ټاکل شوي غنم يې ورته ورنه کړل نو له کورونو به يې ووباسي.
په کلي کې د نعيم نه پرته بل ولوستي کس د کلي استاد هري چند نومېدو چې ځان له يواځې اوسيدو. يو ماښام نعيم د هغه په بلنه ولاړو او چايو ته کښېناستل. هغه ورته وويل چې د هند دا نوابي نظام د انگريز د استعمار ملاتړ کوي او د دې د ليرې کولولپاره بايد هر څه بدل شي. هري چند د کانگرس گوند لپاره کار کوو او نعيم يې راوهڅوو چې دوي سره د نظام د بدلولو لپاره مل شي. خو د گوند په غړيتوب ممکن د ده ميډال او زمکه ترې انگريزان واخلي. نعيم ورته غاړه کيښوده اود کانگرس گوند رسمي غړې شو.
يو کال د هند په بېلا بېلو ځايونو کې د پټو سياسي کارونو نه وروسته نعيم په ژمي کې کلي ته راغلو. پلار يې د ده پر زمکه گنې کرلې و او په گانۍ کې يې گوړه جوړوله. په ډېلي کې په لومړي ځل د هندو او د مسلمان جگړه شوې وه او استاد هري چند ورته وويل داسې ښکاري چې د دې تر شا د هغو خلکو لاس دې چې د هند ولس ته واک ورکول نه غواړي.
په بله ورځ د کلي په کوڅو کې غوغا شوه چې استاد هري چند پخپل کورکې چا وژلې و. نعيم کوڅې ته راوتلو نو يو ميراثي ورته وويل، " د غوا په حلالولو فساد شوې و ، استاد د مسلمانانو پله وي کوله چې هندو ځوانان ورته په قهر شول" نعيم له ژوند مايوسه شو او ټوله ورځ يې په کټ کې تېره کړه. په هغه ماښام د ده پلار له پټيو راغلو نو سينه يې خرابه وه. کورني درمل يې ورته وکړل، د نانا او د ځنگلي بنفشې چاې يې ورله ورکړې خو دې د شپې مړ شو. د کلي ټول خلک د ده جنازې ته راغلل.
د روشن اغا نه وروسته اوس د کلي تر ټولو شته من سړې نعيم و او هر چا ورسره زړي سوي کوله .
نعيم په څو مياشتو کې نورغوايان واخستل او زمکه يې په اجاره ورکړه.
ده د کلي نه بهر يو پوخ کورهم جوړکړو چې ځان له يواځې پکې اوسېدو.
خو ډوډۍ لپاره به د پلارکور ته ورتلو. يو وار ده په ډېلي کې د خپل کاکا

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره ولیدل نو د روشن محل نه د یو واده کارډ یې ورښکاره کړو. د روشن اغا د زوي پرویز واده و او د تره په ټینګار دې هم د تلو لپاره راضي شو. ده خپل هغه پوځي لباس واغوستو چې د ځانګړو موقعو لپاره یې ساتلې و. د کوټ په سینه رنګین پټې او ورلاندې یې خپل میډال وځړوو.
ده خپل د لرګي لاس په جیب کې کېښودو او خولۍ یې په سر کړه چې یوه وزره پکې ټومبلې وه. په روشن محل کې جشن و او هغه ټول ماشومان چې څو کاله وړاندې یې لیدلي و اوس ځوانان و. د ده د عمر ځوانان ورته د پاخه عمر ښکاره شول نو پخپله یې هم د زړښت احساس وکړو. ټ ول د ده چاپیره راټول شول او د ده میډال او پوځي لباس ته یې د خوښۍ په سترګه کتل. انګریزان به هم د ده درناوي ته ودرېدل. بیا ده عذرا ولیده او هغه پخوانۍ مینه یې بیا راتازه شوه.
د روشن پور په تاریخ کې داسې چرې نه و شوي. نعیم د عذرا سره واده غوښتو اوروشن اغا پرې خوښ نه و. د نعیم کورنۍ ورته له ځان ټیټه ښکاریده. د عذرا مور او خاله د دې مخالفت کوو چې هغه یو کروند ګرو، سره له دې چې ځیني نورخلک د هغو دواړو ښځو په شرافت شک من وو. د ټولو مخالفتونو نه وروسته هم په ژمي کې د عذرا او نعیم واده وشو. د دوي د استوګنې لپاره روشن اغا د کلي په باغ کې یو لوی کور جوړ کړو. خو لږه موده وروسته عذرا ته د کلي ژوند بې خونده ښکاره شو او دا به د اوږدې مودې لپاره ښارته ولاړه.
یو سهار نعیم په کلي کې خبر شو چې د امرتسر په یو باغ کې د انګریزانو په ډزو زرګونو کسان وژل شوي و. عذرا او نعیم دواړه هغه ځاې لیدو ته ورغلل او وې لیدل چې د انګرېز د ظلم پر ضد د خلکو احساسات نور هم راپاریدلي و او په یو غږ د دې وژنې غندنه کیده . عذرا د نعیم سره په کلیو کې د خلکو سره لیدل پیل کړل او دوي یې له خپلو حقونو خبرول. په روشن پورکلي کې د انګریزاستاځي چې د مالیې د راټولولو لپاره راغلو نو خلکو یې مخالفت وکړو او نعیم د دې مخالفانو مشري وکړه.
د دسمبر په میاشت کې د انګلستان د ملکې زوي د ویلز شهزاده د هند رسمي سفر ته راغلو نو عذرا او نعیم د دې پر ضد د احتجاجي پاڼو د ویشلو په کار لاس پورې کړ. هر ځاې د جلسو او د جلوس تابیا شوې وه. نعیم ته په جاټ نګر کې د یوې جلسې ته د خطاب بلنه ورکړې شوې وه. دې چې ورته ورسېدو نو هغه ځاې د هرې خوا نه پولیسو محاصره کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

و. خلک د هغې کوڅې چاپېره راټول و چې په لرګینو تختو بنده کړې شوې وه.
نعیم تر غرمې انتظار وکړو او یو وخت یې د لرګي د یوې تختې نه ځان ور دننه کړو او په یو ګاډۍ وختلو. تر څو چې پولیسو فعالیت کوو، په زرګونو خلکو تختې ماتې کړې او د نعیم چاپېره ودریدل چې دوي ته یې وېنا کوله. نعیم داسې وېنا پخوا چرې نه وه کړې او یو ساعت وروسته چې پولیسو ورته په لاس کې ولچک وتړل نو ده مزاحمت ونکړو او په ارام ورسره روان شو.
نعیم لپاره د لکهنئو دې بندي خانې ته تلل حیرانوونکې خبره نه وه. د ده په زرګونو ملګري په سیاسي فعالیتونو د هند په لر و بر کې زنداني شوي و. خو د ده لپاره هغه ښکنځلې چې ده د ساتندویانو او د نورو بندیانو له خلې اوریدې د منلو وړ نه وې. د ده د لرګي جوړ شوې لاس د پولیسو په وهلومات شوې او ترې واخستل شو. څو میاشتې هم دغسې تېرې شوې او نعیم د زندان د سختو سره عادت شو. هلته بندیانو ته د کسب زده کړه کیده. نعیم په خپل روغ لاس د ستن تار او د ګنډلو چل زده کړې و. یوه ورځ د یو پخواني ملازم له خوا یې لیک تر لاسه کړو چې تره یې مړ شوې و.
د برېطانیې حکومت په هند کې د خلکو د ناارامۍ د پلټنو لپاره یوه استاځې ډله د انګلستان نه هند ته ور واستوله چې سایمن کمیشن نومېده. عذرا خپل پلار او ورور ته وویل چې دا د نعیم سره په بندي خانې کې د ملاقات لپاره ورځې خو اوس د زرګونو نورو خلکو په شان د لکهنئو د اورګاډي په تم ځاې کې ولاړه وه . خلکو په لویو تختو د انګریزي درې توري لیکلي و. " سایمن بیرته ولاړ شه"
په احتجاج کوونکو کې ډیرو خلکو لیک ولوست نه و کړې خو دغه درې توري یې په چیغو چیغو ویل. " سایمن ګو بېک " عذرا د نورو څو میرمنو سره د مظاهره کوونکو په لومړۍ لیکه کې ولاړه وه چې نابېره یې سترګې په خپل ورور ولګېدې. پرویز په یو اس سپور د هغو پولیسو شا ته ولاړ و چې د مظاهره چیانو د ټکولو لپاره هلته استول شوي و. دا حیرانه شوه ځکه د دې په اند پروېز باید هغه ورځ په ډېلي کې وې. هغې د څو کسانو شا ته د پټېدو هڅه وکړه او هم هغه وخت سپارو پولیسو وځغستل.
خلکو هرې خوا ته منډې وهلې او عذرا پخپل سر د کوټک ګوزار وخوړو نو دا هم په منډه شوه. یو سړي د خلکو شا ته عکسونه اخستل او عذرا نیغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولاړه د کېمرې مخ ته ودریده. د سایمن کمیشن غړي چې په کوم اورګاډي کې سپاره و، دا په لکهنو کې تم نشو او وړاندې ولاړو.
په بله ورځ عذرا چې روشن محل ته ورسیده نو په سر یې پټۍ تړلې وه. مور ورسره خبرې ونکړې او ترور ورته وویل چې ورور او پلار ترې سخت خفه و. هغه د پلار کوټې ته ولاړه نو پر مېز ورځپاڼې ایښې وې چې پکې د دې عکس هم چاپ شوې و. پلار یې د نور کله په شان ورته په سر لاس کېښودو. پرویز په یوې کرسۍ داسې ناست و لکه چې عذرا یې نه پیژندله.
روشن اغا ورو غږ کې خبرې پیل کړې چې دا ولې مظاهرې ته تللې وه. عذرا ورته سپیناوې کوو خو خبرې یې نشوې کولې. ورور ورته پېغور ورکړو چې میره یې بندي و او غواړي چې پخپله هم بندي خانې ته ولاړه شي. عذرا په لومړي ځل پخپل کور کې ځان ډېر یوازې احساس کړو.
څو میاشتې وروسته نعیم خوشې شو او تر څو چې عذرا خبریده، دې په اور ګاډي کې د ډېلي تم ځای ته رسیدلې و. عذرا ورسره هم هلته ولیدل. هغه زمکه او امتیازات چې د پوځي میډال په ګټلو ورله انګریز ورکړې و، بیرته اخستل شوي و.
عذرا په روشن محل کې اوس ځان دومره پردې ګڼلو چې په کلي کې یې د اوسیدو فیصله وکړه. د نعیم کشر ورور علي اوس د شپاړسو کالو تنکې ځوان و خو ټوله ورځ به خوشې ګرځیدو. نعیم یوه ورځ د پلار کور ته ولاړو او دې یې پټیو ته وویستو چې کروندې ته یې را وهڅوي. له ډیرو خبرو وروسته علي ورته وویل چې دې د کلي ژوند نه وېزاره دې او له نوکرۍ وروسته د ترور لورعایشې سره واده کول غواړي. نعیم ورسره لوز وکړو او دې یې ښار ته بوتلو. هلته د ټوکر په یوې کارخانې کې یې ورته ملازمت ومونډلو.
د کانګرس له خوا اوس د انګریزانو د جوړو شویو شیانو پریکون اعلان شوې و. ګاندهي ټول ولس ته غږ کړې و چې مالګه دې پخپله جوړه کړي. د سپرلي په پای کې د مالګې د جوړولو دې تحریک دومره زور ومونډلو چې په روشن پورکې د نعیم په کورکې چې اوس خوشې پروت و، د مالګې جوړولو تابیا وشوه. یو لوې د ګوړې جوړولو کړهې ( کړاي) په اور باندې شو او څو ورځې پکې د کوهي اوبه پخیدې خو مالګه ترې نه راوتله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

علي د خپلې ښځې سره کلي ته راغلې و او دې هم درې ورځې د دې اور چاپېره کښيناستو.
اخر د کلي په بله څنډه يو کوهي ته يې پام شو چې اوبه يې مالگينې وې. اوبه ووېشيدې نو ټولو ورته داسې په هيله منو سترگو کتل چې پاخه فصل ته به يې هم نه و کتلي. له ډېرو خوټکيدو وروسته کله چې اوبه په لوښي کې دوه انچه ښکته شوې نو په اړخونو يې سپينې نښې پرېښودې. ډېرو کسانو په يوه خله وويل، " مالگه" او ورباندې پرېوتل. بيا هر چا دا سپين پخپلې گوتې موښل اوڅکه يې کوله. "مالگه ده مالگه" ، پرتاپ په چيغه وويل. کله چې د کړهي په تل کې لرې اوبه پاتې شوې نوپکې سپينه مالگه ښکاره شوه. ټولو ځوانانو له خوشالۍ ناره کړه او له کروند گرو يې د پوټې مالگې په بدل کې پاو غنم واخستل چې د گوند غړو ته پرې ډوډۍ پخه کړي.
نعيم او عذرا په هغه جلسه کې گډون وکړو چې پکې د کانگرس نه بيل شويو مسلمانانو د مسلم ليگ په نوم د يو نوي گوند د جوړولو اعلان کړی و. خو د ژمي په پيل کې نعيم د عذرا سره جنگ وکړو او دې بېرته کلي ته ولاړو. عذرا د دې جنگ حال پلار ته نه ويلو خو مور يې خبره شوه او دې ته يې ډېر نصيحت وکړو چې بايد مېړه سره سم ژوند وکړي. دوه اوونۍ لا تېرې نه وې چې له کلي خبر راغلو چې نعيم فالج وهلې و.
عذرا لکه د بې ځالې مرغۍ په روشن محل کې گرځېده او چرت به يې وهلو چې څه وکړي. اخر کلي ته ولاړه او د خپل ويجاړ کور په دروازه ورننوتله. کور خوشې و او څو نوکرانو ته يې د دې د صفاي وويل. ماښام په تياره کې د نعيم پلرني کور ته ورغله چې پخوا ورته نه وه تللې. نعيم د دې په ليدو حېرانه شو او د پورته کېدو هڅه يې وکړه خو پښه يې شل وه. عذرا ورسره نږدې کښېناسته او په ژړا شوه. د نعيم مور د گرمو تېلو سره را دننه شوه او سره له دې چې پخوا يې امړور نه وه ليدلې پوهه شوه چې دا څوک وه. مور يې د نعيم په فلج پښه د تېلو مالش وکړو، عذرا د کوټې په منځ کې اېښې بخارې کې نور لرگي کېښودل او دروازه يې پرانسته چې لوگې بهر شي. عذرا د څو ورځو د مينت زارۍ نه وروسته نعيم دې ته اړکړو چې ښار ته د درملنې لپاره ورسره ولاړ شي. نعيم يو وارې بيا په روشن محل کې مېشت شو. د دوېم لوې جنگ د ختمېدو يوه اوونۍ تيره شوې وه چې نعيم د امسا په مرسته د گرځېدو جوگه شو. عذرا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته اوس پخپل کورکې د ورونو خوېندو او د ورينداريِ چلن مصنوعي ښکاريدو. هغې به د نعيم ټول کارونه پخپله کول او يوه ورځ يې ورته وويل چې دوي به بيرته کلي ته ولاړ شي. نعيم په دې راضي نه و او عذرا ته يې ډاډ ورکړو چې دې به يو ځاې ملازمت وکړي چې د دې په کورنۍ پيټې نه شي.
د سيمټو په کارخانه کې شپه او ورځ مشينونه چالان و او د کار ګرانو لپاره يو قانون جوړ و چې هر کس بايد اته ساعته کار وکړي. خو عجيبه خبره دا وه چې د ډوډۍ او د نورو اړتياو لپاره يې وخت نه ورکوو. د ډوډۍ لپاره به يو لوې زنګ وغږيدو نو کارګرانو به هم هغسې د کار په ځايونو هغه خواړه چې له ځانه سره کور نه راوړي و، ژر وخوړل. هر څوک چې د خپل مشين نه ليرې کيدو نو بل ته به يې د کار سپارختنه وکړه. علي د ډوډۍ پر وخت هيڅ نه خوړل ځکه ده سره به څه نه و.
دې دټوکر له کارخانې راوتلې و او د زيات معاش لپاره په دې کارخانه کې ملازم شوې و. عايشه ورته ناروغه په کټ کې پرته وه. ماښام کور ته په رسيدو يو څه به يې ژر ژر پاخه کړل، هغې له به يې ورکړل او پخپله به يې هم وخوړل. په هرو دريو مياشتو کې چې ده سره به څو پيسې سپما شوې نو مېرمنه به يې ډاکټر ته بوتله او دارو به يې ورله واخستل.
په کارخانه کې د ده يو ملګري بشن له ده هم خوار و. هغه به هره ورځ د اوربشو ډوډۍ راوړه او که په لاره کې يې چرته بيرې راټولې کړې وې نو دا به يې د علي سره شريکې کړې. دلته د کار شرايط دومره سخت و چې اخر د دوي اتحاديې د کار بندۍ فيصله وکړه. يوه ورځ څلور بجې د ورځې کار پاې ته د رسېدو زنګ وغږيدو نو ټول مزدوران په ډلوډلو بهر روان شول. تر څو چې مشران خبرېدل نو نيم نه زياتو کارکونکو يې بهر د لوې دروازې مخ ته نارې لګولې.
د کارخانې د خاوند له خوا ګومارل شوي مشرانو ژر ژر هغو ته چې دننه پاتې و، د لوړو معاشونو خبره وکړه او لويه دروازه يې وتړله. علي هم د لوې دروازې لور ته روان وچې دننه راګېر شو. يو کس ته يې زارۍ کولې چې د ده مېرمنه ناروغه ده او دې په کاربندي کې نه و شامل. خو هيچا د ده خبره نه اوريده. په لوېه دروازه اوس وسله وال پوليس ولاړ و. څو انګريزان په موټرو کې راغلل چې يو پکې انجينير و. نورو د اتحاديې د مشرانو سره خبرې پېل کړې او پاتې مشرانو ټوله شپه لکه د نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

مزدورانو د مشینونو په چلولو کې لاس کوو. علي او نور خلک د دوي جوش ته حېرانه و. ماښام د ټولو لپاره د کارخانې په کینټین کې غوښه وریته شوه او په غوړو کې ډوبه حلوه یې کارګرانوته ورکړه.
تر نیمې شپې د کارخانې د لوې دود کش نه لوګې وتلو خو بیا په یو مشین دومره فشار راغلو چې کار یې پرېښودو او ورسره لوګې هم بند شو. بهر مزدورانو ناره کړه او د دوي شعارونو په شور کې انګرېزان له کارخانې ووتل. شیبه وروسته لوې دروازه پرانستل شوه او د اتحادیې مشران د ګلانو امیلونه په غاړه د خلکو په بدرګه لکه د بریالي کوماندانانو رادننه شول. د کارخانې مشر د دوي ځینې غوښتنې منلې وې او په نورو غورکېدو.
نعیم د تعلیم په وزارت کې پارلیماني سکتر ټاکل شوې و. هیڅوک خبر نه و چې څنګه خو هر چا ته دا جوته وه چې په دې ټاکنه کې به د روشن اغا سیاسي اغېزې لاس کړې وي. نعیم په دفتر کې د کار هیڅ تجربه نه لرله خو په لنډه موده کې یې دا زده کړل. په دفتر کې یوکس د انیس الرحمان په نوم د ده ملګرې شوې و. هغه له ده ځوان و خو د ده په شان د کتابونو د مطالعې شوقین و. د نعیم په وېښتو کې اوس سپین لګیدلي و اوتمبکو به یې څکول. په کور کې به زیات وخت دې په کتابونو ولوستلو بوخت و ان تر دې چې د باغبانۍ شوق یې هم د لاسه ورکړې و. هر سهار د خپلې امسا په زور د کور نه بهر چکر لپاره ورتلو. عذرا به هم ورسره وه چې ورزشونه به یې پرې کول.
یو ماښام دې د انیس الرحمان له کوره په موټر کې روشن محل ته راغلو نو وې لیدل چې ټول ملازمان د باغ یوې څنډې کې راټول او د ښار لوري اسمان ته یې سترګې نیولې وې. د اسمان په هغه برخه کې سره رڼا ښکارېده او نعیم هڅ وهلو چې یو ځاې به اور لګیدلي وي. دې برنډې ته راغلو نو په یو مېز ایښې ټیلیفون زنګ غږېدو. هلته یوه خدمت ګاره ناسته او هره شېبه د زنګ پر غږ به یې ټیلیفون ته په وېره وکتل.

نعیم له کوره راوتلې او د ډېلي ښارختیځ لوري ته روان و. د یوې کوڅې په منځ کې ناست سپي ورته وغپل نو دې هېښ شو خو ګامونه یې تم نشول. یو وخت د لرګي د سوځیدو بوي یې حس کړو او د ده سپېږمو ته لوګي کډه وکړه. څو شېبې وروسته دې د تنګو کوڅو په منځ کې یو میدان

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې ولاړ و. چاپېره یو څو دنګ کورونه د اور په غرغنډو سوځېدل او بې شمېره خلک یې نندارې ته ولاړ و. ښځو د کورونو له دروازو تا کوو ، چا د خپلو سترګو اوښکې پاکولې، بلې پوزې ته د لوپټې پیڅکې نیولې و. خو په راټولو کسانو کې هیچا د اور د وژلو هڅه نه کوله.

د اطفایې یو انجن چې په تنګه کوڅه کې دننه نشو ورتلې، بهر پر سړک ولاړ و او اوکار کوونکو د یو نري پایپ په واسطه اوبه شیندلې چې د دې دومره ډېر اور لپاره بس نه وې. یوې خوا ته له نورو کورونو خلکو خپل سامان بهر ایستلو اوڅو کسان په چیغو بهر او دننه تلل راتلل. د پولیسو غړي بې ښې بې بدې اخوا دیخوا په منډه و. نعیم بیا سړک لوري ته روان شو. د بلوایانو یوه ډله د تیارې کوڅې کې ښکاره شوه او په بلې کې ترې تم شوه. دوي لنګوټې تړلې و، مخونه یې په تربوزک پټ او بربنډ ځانونه یې په رڼا کې ځلیدل. د پولیسو یو څو ځوانانو دوي پسې منډه کړه.

یو پولیس نعیم ودرووو او ترې پوښتنه وکړه چې څوک او چرته روان و. نعیم خپل نوم او پرې شوې لاس ښکاره کړو. پولیس ورته په ښکنځلو د یو دکان مخې ته د کښیناستو امر وکړو. پولیس څو شیبې یوې یوې کوڅې کې وکتل، بیا د خپلو دوو ملګرو په لیدو یې ورسره پټې خبرې وکړې او یوې خوا ته روان شو. نعیم لږ وخت هم هلته په دکانچه ناست و خو بیا دې هم له کوڅې ووتلو.

څه وخت وروسته دې د یوې بنګلې مخ ته ودریدو چې په دروازه نه څوکیدار و او نه سپې. ده زنګ ووهلو اوپه انتظار شو. یو سپین ږیرې نوکر بهر راووتلواو د ده په لیدو حیرانه شو خو ژر یې دننه کړو. دننه انیس الرحمان ورته سترې مشي وویل، " خبر یې اوس د شپې درې بجې دي او په ښار کې بلوه روانه ده؟" نعیم ورته وویل، " هو ما پخپلو سترګو ولیدل ، ما له خوب نه راتلو."

یو ملازم د انیس په امر چلمچې او اوبه راوړل او نعیم ته یې پښې وومینځلې چې په خاورو او مرداریو لړلې وې. ده وویل، " زه په ارام خوب نشم کولې ځکه ما یو کس وژلې و" انیس ورته وویل، " قتل؟" نعیم ویل، نه...نه...ما پخپله نه و وژلې. د جنګ په میدان کې ما بارود راوړل او د دښمن پوځیان مې ولیدل چې زمونږ سنګر ته نږدې و. دننه زما ښوونکې ناست و چې یو میړنې او خوش بخته سړې و. زما ترې قصد کیدو. زړه کې مې یو پټ ارمان و چې دې به کله وژل کیږي. یو بم

(c) ketabton.com: The Digital Library

راپرېوتو نو زه پر زمکه سملاستم. ده فکر وکړو چې زه ټپي يم او غږ يې راباندې وکړو. خو ما ورله ځواب ورنکړو. دې زما د ژغورلو لپاره له سنگر را بهر شو او د دښمن په گوليو سورې شو"
په بل سهار نعيم د روشن محل نه د وتلو فيصله وکړه او د عذرا سره يو بل کور ته يې کډه يوړه. د پارليمان ودانۍ ته به اوس ډېر خلک راتلل. د هند د بش پېره خپلواکۍ لپاره خبرې په وروستي پړاو کې وې. د انگريزانو استاځي لارډ ماونټ بيټن به د شپې تر ناوخته د ټولو مشرانو سره خبرې کولې. په دې وخت کې د هند د هر يو گوټ نه د حکومت پر ضد د بلوه او د مظاهرو راپورونه راتلل. د دې لوې هيواد وېش د هند ځلوېښتو ميلينو وگړو لپاره د اندېښنې وړ خبر و. د داخله چارو د وزارت په پارليماني دفتر کې هم يوه خاموشه هنگامه روانه وه.
د نعيم دفترد دې ودانۍ په بره پوړ کې و او ده په کار ځان بوخت کړې و. يو وخت دې له دفتر ووتلو او بهر له برنډې ليرې د باغ نه اخوا پر سړک يې د خلکو گڼه وليده. دوي شعارونه ورکول او نارې لگولې خو پوليسو هم هلته ايسار کړي و. نعيم ته په دې خلکو کې د علي څېره هم ښکاريده او په خپلو خيالونو کې يې د کلي کوڅې ليدلې. دې خبر نشو چې څه وخت انيس هم له دفتر راوتلې، د ده شا ته ولاړ و. د ده په اوږه يې لاس کېښودواو په ورو غږ يې وويل، " کاواکه هجوم دې، لکه د غوايانو بې ترتيب او مردار" ده يوه زهر ژن خندا وکړه او بېرته خپل دفتر ته ولاړو.
نعيم د برنډې نه د کانفرنس خونې ته روان شو. هغه وخت ده ټول مشران وليدل، پنډت نهرو، جناح، راج گوپال اچاريه، کرپ لاني، لياقت علي، بلديو سنگ او نور چې دننه ولاړل نو محافظانو د خونې ټولې دروازې ورپسې پورې کړې. ده د کوټې له کړکۍ وليدل چې انيس الرحمان دوسيې يوې اوبلې خوا وراستولې. د نعيم په غوږ کې اوس هم د ده غږ انگازې کولې. د ده په خبرو کې څومره کرکه وه او د هغه لپاره دا دومره يوه سړې اوس د انساني کمزورۍ او د خود غرضۍ يوه بيلگه وه.
نعيم خپل ځان په دې ودانۍ کې بې ځايه احساس کړو. ده ديوال سره ډډه وهلې وه او چرت يې وهلو چې زه ولې د هغو خلکو په منځ کې نه يم چې پخپلو مټو يې انگريز په گونډو کړو؟ ناڅاپه د ده زهن روښانه شو اوژر خپل کوټ يې په غاړه کړه، امسا او خولۍ يې راواخستل اوله دفتر ووتلو.
انيس الرحمان ورپسې غږ وکړو، " چرته ځې، کانفرنس روان دې او بهر

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلک په قهر دي" نعیم ورته مخ واړولو، " دا سهارګوري؟ یو ځل چا راته ویلي و چې د خداې پاک په نړۍ کې هر سهار د نوې خپلواکۍ او ښکلا سره پیل کیږي، د خداې په امان"
د پارلیمان د ودانۍ نه بهر ده د ازادۍ احساس وکړو او بیا د مظاهرچیانو په ډله کې ورننوتو. هلته د تورو، مردارو خلکو د وجود بدبوي یې احساس کړو، په تېل ماتېل کې دې بلې خوا ته ووتلو. په زرګونو خلکو نارې وهلې، " انقلاب زنده باد، اکهنډ بهارت زنده باد، پاکستان زنده باد، حکومت بریطانیه مرده باد، " نعیم خپله خولۍ په امسا وټومبله او دا یې لوړه کړه ، په پورا زور یې ناره کړه، " ازادي ..زنده باد" د ده په غږ نږدې څو کسان ورته وموسېدل خو هغوي د ده د ازادۍ په مفهوم خبر نه و.
څو ورځې وروسته په ښار کې اخودب زیات شو او ډیرو خلکو کډې بارکړې. د اورګاډي تم ځاې کې په زرګونو انسانانو د سفر لپاره ټکټونه اخستي و خو د دوي د اوړلو لپاره ګاډي نه و. که څه هم ترهغه د مشرانو تر منځ خبرې رواني وې او دا هم څرګنده نه وه چې د هند کومه برخه خوندي وه خو دا اوازه ګډه وه چې ملک به د هندو او مسلمان تر منځ وېشل کیږي. هغو خلکو چې دا یو ناشونې کار بللو، لیدل چې ډیرو کسانو بې له دې چې خپل منزل ورته معلوم وي ، کډه په سر کورونه پریښي و.
څو ورځې وروسته د روشن محل په لوې تالار کې د کور ټول غړي راټول و. عذرا هم هلته وه خو نعیم پکې نه و. پروېز د دوو ساعتو نه خبرې کولې او اوس ستړې شوې و. له سهاره یې پلار ته د پاکستان ته د تلو لپاره دلایل ورکول. ده د ډېلي نه تر لاهور پورې د الوتکې ټیکټونه اخستي او پرته له دې چې پلار نه اجازه واخلي، د کور سامانونو د تړلو امر یې کړې و.
روشن اغا یوه خبره بیا بیا کوله چې، " دا زما کوردې، د دې بن سټ زما مشرانو ایښي و، مونږ ټول په روشن پور کې... پروېز ناهیلې شو او د ده خبره یې پریکړه، " روشن پور، روشن پور...تاسو له دې ځاې نه خبرې کوئ، فکر مو دا دې چې د روشن پور خلک اوس هم درته پټ من دي؟ نن تاسو روشن پور کې قدم نشوئ ایښودې. هغوي زمونږ منشي او ټول کارکوونکي وژلي دي. نن مو په کلي کې هیڅوک نه پیژني"
پلار یې وویل، "خلک به څه واي؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پرویز صبر تمام شو، " نو بیا مونږ درنه ځو"
روشن اغا خپلې میرمنې ته وکتل چې سترګې یې ښکته وې. بیا یې عذرا ته مخ واړوو، پرویز په زوره وویل" عذرا مونږ سره ځي، نعیم کله زمونږ خبره منلې ده چې اوس به یې وومني؟ خوښه یې خپله ده ، ځي او که نه".
روشن اغا بیا مېرمنې ته وکتل او په وېزاره لهجه یې وویل، " نو ولاړ شئ، زه مو نه منع کووم"
ماځیګر دوي ټول هواي ډګر ته روان شول او روشن اغا په اوښلنو سترګو ورته په مخه ښه وویل. فیصله دا شوې وه چې کله حالات ښه شول نو دوي به روشن محل ته بېرته راځي. روشن اغا د خپل یو پټ من ملازم حسېن سره پاتې شو. په هغه ماښام د روشن محل ټول نوکران ورک شول او د شپې چا دې لوې کور ته اور ورته کړو. روشن اغا او حسېن د شا دروازې نه په وتلو خپل ځانونه وژغورل. خو بلوایان یې ولیدل چې لوړ دنګ سیکان او د ټیټې طبقې بې وزله خلک و. دوي د کور سامانونه په باغ کې راویستل، اور به یې ورته کړو او شور ماشور به یې جوړ کړو. په هغه سړک نور لوې کورونه هم په اور کې سوځېدل چې د ځینو اوسېدونکي د روشن اغا ملګري و. روشن اغا او حسېن د سړک نه وراخوا په پټیو کې روان و چې د باران له کبله زمکه یې خټه شوې وه. په څو ځایه دوي په کندو کې پرېوتل او اخر د شپې نهه بجې دوي هواي ډګر ته وورسېدل. د روشن اغا زړه ډاډه شو، ځکه د الوتکې په تلو کې اوس هم دوه ساعته وخت لا پاتې و.
د ډېلي نه لاهور ته تلونکي په لویه لار د پنځوسو کسانو یوه ډله روانه وه. په هر څو میله کې د دې ډلې سره نور خلک به هم مله شول. نعیم په هغو پنځوسو کې شامل و چې له ډېلي یې سفر پېل کړې و. دوي سره د پولیسو څو ځوانان و چې زیات وخت یې یو بل سره خبرې کولې او بې له خپلو جامو نور څه یې نه لرل. خو د انسانانو هغه ډلې چې په لاره به ورسره مله شوې، چرګان، اسونه، غوایان او خره هم را په مخه کړي و. په دې قافله کې هره ورځ به دوه ډوله ګنګوسې خپرې شوې. یوه دا چې په راتلونکي ښار کې به په دوي یرغل کیږي او بل دا چې په راتلونکي ښار کې به یې هرکلې ووشي او حکومت به ورله د تګ اسانتیاوې برابرې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نعیم د تېرو دریو ورځو راهیسې هیڅ سره خبرې نه وې کړې. د ده ږیره لویه او جامې خیرنې وې. یو وخت په قافله کې بې له څه دلیل ټېل ماټېل پېل شو نو د ده یوبوټ ورک شو. ده بل بوټ هم له پښې اوویستو او اوس یبله پښې روان و. د ده جیبونه تش او هیڅ سامان ورسره نه و. کله کله به ځان سره موسکې شو، بیا به یې پریشانه اخوا دیخوا وکتل خو ګامونه یې نه ودریدل. ده یو وار هم سوچ ونکړو چې عذرا یې څنګه پرېښوده او د هغې سره په وروستې ځل څه خبرې ووشوې. ده ولې د خپل کور دروازې پرانستې پرېښودې او څنګه دې ډلې سره روان شو.
داسې احساس یې کوو چې هر څه پخپله کېدل او د ده پکې هیڅ اختیار نه و. دې د خپل منزل نه هم خبر نه و چې هلته به څه وي یا څه به وکړي اوپخپل ځان کې ډوب و. د قافلې ځینو مېرمنو ته دې مجذوب ښکارېدو او د برکت لپاره به یې ډوډۍ ورکړه چې نعیم به بې له پوښتنې یا مننې وخوړه. انبالې ته په رسېدو وربانديې سخت باران پیل شو.
دوي پینځه ساعته په طوفاني باران کې د انبالې په تم ځای کې ایسار و. دوه اورګاډي د ډېلې له لوري راغلل خو تم نشول او نعیم د دې په چتونو ناستو زرګونو خلکو ته کتل چې د باران له کبله د یو بل سره نښتي و. چارواکو څو وارې د تم ځای نه د کډوالو د شړلو هڅه وکړه خو پاتې راغلل. بیا لکه چې خلک پخپله مایوسه شول او یوې او بلې خوا ته د تلو په هڅه ټېل ماټېل پېل شو. نعیم یو مېدان ته راوتلې و او په دې کشمکش کې نابېره د خپل ورور علي سره مخ شو. دې د غواي د ګاډي سره ولاړ و چې پکې د ده مېرمنه عایشه پرته وه. د باران له کبله ده د یوې تشې بوجۍ نه خولۍ جوړه کړه او نعیم ته یې په سرکړه. ده د نعیم د مور د مړینې حال تېر کړو او دا چې عایشه د تیرو لسو کالو راهیسې ناروغه وه. بیا یې وویل، " وګوره دومره په ګرانه مې په ګاډي څېر جوړ کړې و، پروني طوفان رانه یوړو. اوس د پروړو نه هم اوبه څڅیږي. فکر نه کووم چې عایشه به د سفر تر پایه ژوندۍ پاتې شي. خدای خبر زمونږ سفر هم پای ته رسیږي او که نه." نعیم غلې و او علي ورته د زړه بړاس ویستلو. " ته خو ډېر په ارام په روشن محل کې اوسېدې، د انګریز نوکري دې وکړه، له دې بې خبره شوې چې د پلار اولاد دې په څه حال دي. زه خبر یم چې ته ناروغه شوې وې او یو لوي ډاکټر ستا علاج لپاره روشن محل ته تلو. خو زه هم ناروغه شوې ووم، تا چرې روشن پور ته مخه ونکړه چې د مړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوندي حال واخلي. تا خو ټول عمر عېش کړې دې. سبق دې په کلکتې کې وويلو، اوړي کې به غرونو ته تلې. اوس هغه څه شول؟ دا دې مونږ سره يو ځاې در په دره ګرځې"

نعيم په دې حيرانه و چې علي څنګه د يو تنکي ځوان نه په يو سړي اوختې و او اوس په لوې غږ يې ورسره خبرې کولې. ده نه هير و چې ورور سره يې له دولسو کالو وروسته ليدلي و. علي ډېرې خبرې وکړې او ورو ورو د ده په لهجه کې تاو سوړ شو. باران ودرېدو نو دوي سړک ته راووتل او يو وارې بيا پلي روان شول. علي اوس د خپل ژوند د تېرو دولسو کالو حال ويلو. د کارخانې نوکري يې پرېښوده نو په پوځ کې يې نوم وليکلو چې انګريزانو د دوېم جنګ لپاره جنګيالي روزل. دې درې مياشتې په کلکته کې پاتې شو چې له هغه ځايه د برما محاز ته به وراستول کېدو. خو علي په پوځي بارک کې ناارامه و او يوه ورځ خپل مشر ته په ښکنځلو سر شو. په بله ورځ دې پوځي محکمې ته وړاندې شو او دبند په سزا محکوم شو. د جنګ نه وروسته دې خوشې کړې شو او په کلکتې کې يې مزدوري کوله. بيا له هغه ځايه په مظاهرو کې يې ګډون کوو. په روشن پور کې مسلمانانو ژوند نشو کولې او د دوي زمکې سيکانو نيولې وې.

د کډوالو قافله اوس بيا په سړک روانه وه. د علي د ګاډي پر تخته يو سپين ږيري لاس ايښې ورسره روان و. نابره يو ځاې دې راپرېوتو نو نعيم ودرېدو. علي ته يې وويل چې دې په ګاډي کې واچوه نوهغه په قهر شو. " هر چا ته په ګاډي کې ځاې نشو ورکولې، داسې خو ډېر خلک دي" نعيم هم هلته د سپين ږيري سره ودرېدو او د قدم اخستو نه يې انکار وکړو. يو څو نور سپين ږيري د ګاډي هغه تختې ته لاس رسولو لپاره د يو بل نه وړاندې کېدل. علي مجبور شو او هغه بوډا يې په ګاډي کې کښېنولو.

په هغه شپه دې قافلې کې د تبې د لاسه د يو کس د مړ ينې خبر خپور شو چې ځوان او په خپل ګاډي کې يواځې روان و. يو څو کسان د ده ګاډې د نيولو لپاره يو تر بل مخکې کېدل او پرې ور ودانګل. په دې غوبل کې د ګاډي د دواړو خواوو تختې ماتې شوې او د ځوان مړې ترې پر سړک راپرېوتو. خود ګاډي په سرهم هغسې غوبل جوړ و ترڅو د يو زوره ور لاس بر شو او غواې يې روان کړو. خلکو ورته په چيغه د مړي وويل نو دې ودرېدو او جسد يې بيا په ګاډي کې کېښودو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ځو شیبو کې ټول د دې نه خبر شول او قافله تم شوه. د مړي د ښنولو تابیا کیده او هغو کسانو چې ګاډې یې نیولې و په چالاکۍ هلته ایښې د لرګي صندوق نه د څادر ویستلو په بانه هر څه ترې راوویستل. د جنازې لمونځ ووشو، امام په ګاډي ودریدو او په تقریر کی یې وویل چې " مونږ به ثابت کړو چې د خپلو مړو درناوې کوو. نن د دې مومن په جنازه کې لسو زرو خلکو ګډون وکړو چې د یو ملک د سربراه په جنازه کې هم نه وي."
مړې ښخ شو او د ده په قبر پینځو زرو کسانو د خپلې برخې خاوره واچوله. په دې کار هغه قبر دومره لوې شو چې کډوالو ځو میله لیرې هم لیدې شو.
قافله تر نهو ورځو سفر نه وروسته جالندهر ته ورسیده. که څه هم په لاره ورسره په زرګونو نور خلک مله و خو د قافلې حجم اوس په کمېدو و. د دې سبب دا و چې په پنجاب کې په دوي ځو وارې حملې شوې وې. د تېرو پینځو ورځو نه ورباندې هره ورځ حمله کیده. یرغل کوونکي د کلیوعادې کروندګر و چې ځینو سره وسله او نورو به کوتکې او چړې راوړې وې. په لومړیو ورځو کې د قافلې خلکو ورسره مقابله کوله خو ورو ورو دوي دومره ستړي شول چې د وسله والو په لیدو یا به وتښتیدل او یا به یې ځانونه مرګ ته ورکړل.
د هرې حملې نه وروسته مړي به یې پر ځاې پرېښودل او پاتې خلک به وړاندې ولاړل. ځوانې ښځې وتښتول شوې او سپین ږیري به له کمزورۍ هم هلته د مړو سره ناست پاتې شول. د دې قافلې په وړاندې به کله کله نور مړي پراته و چې د نورو حملو حال به یې ویلو. د داسې مړو په لیدو به دوي خوشاله شول چې د یو ممکن خطر نه ژغورل شوي و. کله کله به دوي د نورو قافلو وژونکي ولیدل چې د سړک پر غاړه به ناست و خو دومره به ستړي و چې دوي ته به یې څه نه ویل. نور کله به حمله کوونکو مړي او ټپیان یوې ډیرۍ کې راټول کړي و او په اور به یې سیزل. په داسې وخت کې به د قافلې خلک لکه د سیوري خاموشه د دوي څنګ نه تېر شول.
په دې اړ و دوړ کې نعیم ځو وارې د علي نه ورک شو خودې به په ګاډي وختلو او چاپېره به یې د ورور لټه وکړه. بیا هر ځاې چې به یې په نښه کړو، هلته به ولاړو او په بدو ردو ویلو بېرته ګاډي ته راوستلو. دوي اوس امرتسر ته نږدې و او نعیم د تېرو ځو ورځو راهیسې خبرې پیل کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي. دومره خبرې به يې کولې چې هيچا به ترينه پوښتنه نه کوله او نه د ده خبروته چا غوږ اېښودو. يوه ورځ يې علي ته وويل "غوږ اونيسه، يوه بله خبره به درته وکړم. عذرا...زما مېرمنه ډېره ستره ښځه ده. هغه هيڅ انديښنه، جنجال او منافقت نه لري. هر هغه څه چې غواړي د هغې لپاره بې دريغه ځان تباه کړي. دا د انسان د ټول شرافت، غم او قربانۍ سره پټه خله او په رضا ژوندۍ ده. خداې پاک انسان پخپل شبيه کې جوړ کړې دې او دا د عذرا شبيه ده. خو ګوره دا خبرې هغې ته وونه کړې"

د دوي جامې شلېدلې او د خواړو لپاره يې هيڅ نه لرل. کله کله د شپې په تيارو کې له پټيو هر څه چې يې لاس ته ورغلل راوشوکول.

په هغه ماځيګر د دوي په قافله وسله وال راوختل نوعلي او نور ځوانان ورک شول. له تېرو څو ورځو راهيسې هم داسې کېدل. يرغلګرو ته نعيم ډېر زوړ او عايشه مړ ژواندې ښکارېده نو ورته يې څه نه ويل. د چورچپاول او وژنو نه وروسته به خلک روان شول نو علي به راښکاره شو.

په بل سهار دوي بيا مزل کوو او نعيم د غنمو او د جوارو د کر په اړه عاشې سره لګيا و. ده يو څو کسان وليدل چې د ده په لورې روان و. علي د ګاډي لاندې پټ شو خو نعيم بيا هم د پټي د ربېلو او د لاونو خبرې کولې. وسله وال د ده په سر ولاړ و او دې يې له ګاډي راښکلو. ده خپل د لرګي لاس عايشې ته ورکړو چې وې ساتي خو يرغلګرو دې د ټوپک په کونداخونو په وهلو ځان سره بوتلو. علي ورته په پښو پريوتو چې ورور يې معذوره دې خوهغه يې يوې خوا ته ورټېله کړو.

عايشې په اوښلنو سترګو نعيم ته کتل چې کميس يې تار تار پر اوږو ځړېدو. هغه سر ښکته اچولې ورسره ولاړو او يو وارې يې هم شا ته وونه کتل. دوي له سترګو پناه شول نو د ډزو غږ له نږدې واورېدل شو.

د قافلې خلکو وځغستل چې مخه يې د اورګاډي تم ځاې و. د امرتسر نه يوګاډې لاهور ته د تلو لپاره تيار ولاړ و. علي د عايشې لاس ونيولو او د ورختلو لپاره يې منډې کړې. ګاډې اوس روان شوې و. په دې وخت کې د عايشې لاس ترې وخوېدو او دا د خلکو په ګڼه کې ورکه شوه.

د لاهور د اور ګاډي په تم ځاې کې علي د زرګونو نورو مهاجرو په شان د څو ورځو نه بې سده پروت و. ځينو خلکو به سهار او ماښام وربانديې ډوډۍ وېشله. يوګاډې چې هندوان او سيکان پرې سپاره و امرتسر ته د تلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

لپاره هلته تم شو. د دې دروازې بندې وې خو يو څو کړکيو نه د ماشومانو ژيړې ځېرې ښکارېدې چې په سترګو کی يې وېره وه. هم هغه وخت د مسلمانانو يوه ډله په شور رانغه شوه چې په ظاهره ورسره وسله نه وه. خو يو کس د خپل جېب نه طمانچه راوويستله اويو ماشوم ته يې ونيوله.
يو... دوه ...درې...
نابېره پر زمکه هغه ټول خلک چې مړ ژواندې پراته و، په اورګاډي ونښتل او د دې دروازې يې ماتې کړې. د خلکو په چيغو او د ډزو په اوازونو قيامت جوړ شو. هرې خوا ته د تازه انساني وينې دارې بهيدې. مهاجرو د خپلو مړو بدل اوس د دې نورو مهاجرو نه اخستو. علي سترګې پټې کړې او ځان سره يې وويل، " د دې ګاډي بدرګه پوځيان څه شول؟"
د روشن اغا ټبر د لاهورد شته منې سيمې په يوه دوه پوړيزه لويه بنګله کې اړولي و چې يوه برخه يې سوځېدلې وه.
دا " راج منزل "نوميده او د دې په لويو کوټو کې د کور د پخوانيو اوسېدونکو عکسونه ځړيدل. يو څوک د مهاراجه په لباس کې و او څوک د انګريزانو سره ولاړ و. د هندوانو د اسطورو انځورونه هم پکې وچې ټول اوس له ديوالونو ليرې کړې شوي و. پروېز په ايالتي حکومت کې لوې افسر په توګه کار پيل کړې و او روشن اغا زوې ته ويلي و چې د کور نوم دې په " روشن محل" واړول شي. د دې لپاره پروېز ښار والی ته يوه عرضي ورکړې وه.
عذرا به د کور په لوې باغ کې ګرځېده او د نعيم په اړه يې چرت وهلو چې دې به په کوم حال وي. روشن اغا د د زنکندن اوومه ورځ وه او د خپل وروستي ارمان د پورا کېدو په هيله به يې هره ورځ د زوې نه پوښتنه کوله خو د دوي عرضي نه وه منل شوې. پروېز د عذرا سره مشوره وکړه چې پلار ته به دروغ وواي چې د کور نوم د بدلولو اجازه يې تر لاسه کړې وه. عذرا زړه نا زړه وه او ورته يې وويل، " کله کله انسان د يو ارمان د پورا کېدو لپاره ژوندې وي" خو په هغه ماښام پرويز د پلار سره کښېناستو او ورو ورو يې ورته وويل چې د دوي کور به اوس روشن محل ونومول شي. د روشن اغا سترګې د وروستي ځل لپاره وځليدې او بيا په ابدي خوب ويده شو.
پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**